نن ورځ ، ډېری خلک په استوګن ځایونو(کورونو) کې ژوند کوي، استوګن ځای د شتمنۍ (املاکو) په توګه ګوري، ځکه چې استوګن ځای د کار، کورنۍ فعالیتونو او ژوند کولو ځای دی، نو ځکه استوګن ځای په ذهني او فزیکي لحاظ خورا لوړه مانا (معنی) لري.

**د اوسني استوګن ځای  برخې:**

۱. دالان

۲. د اوسېدو خونه (سالون)

۳. د خوب خونه

۴. حمام

۵. تشناب

۶. کاري خونه

۷. پخلنځای

۸. خوراکخونه

۹. ګودام

۱۰. د مطالعې خونه او داسې نور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

**د استوګن ځايونو ځانګړي ډولونه:**

۱. سمڅې - کومو کې چې انسانانو په پخوا پېر کې ژوند کاوه.
۲. خيمې - د لنډ مهاله ژوند يا استراحت ځای دی.
د بېلګې په توګه: د منګوليا کوچيانو د يورت په نوم ګردې خيمې جوړې کړې چې د لنډ مهال له پاره، په بل ځای کې تنظيم کېدی شوای.
۳. جونګړې (خس پوشک) کومې چې د وابنو او لښتو څخه په ځنګلونو او دښتو کې جوړې شوې دي.
٤. لرګيو کورونه – کوم چې په ځنګلونو، کليو او ښارونو کې د ونو لرګيو (لښتو، څانګو) څخه جوړې شوي دي.
٥. د خټو او پخسو کورونه.
٦. د اومه خښتو کورونه
٧. د پخو خښتو کورونه
٨. کانکرېټي کورونه
٩. فلزی کورونه
١٠. مختلط کورونه

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

## د عینک مسو سیمې استوګن ځایونه:

د لیدو او څېړنو نه وروسته، داسې ښکاري چې تر اوسه په بشپړه توګه هر اړخیزې فني او تخنیکي کیندنې او څېړنې په سیمې کې نه دي تر سره شوي، نو ځکه د استوګن ځایونو(کوټو) ځینې دېوالونه د باندې او د ننه خواوو نه، تر خاورو لاندې دي.

په ځینو نورو ځایونو، غونډیو او په ځانګړي توګه لوېدیځو غونډیو استوګن ځایونو کې د ننه خواوې تشې ښکاري، یوه کوټه د بلې سره نښلول شوې او پایله (اخر) کې یې د غره سمڅې یا سوري ته رسیږي.

د څېړونو نه داسې ښکاري چې په لمړي ځل انسانانو دلته ژوند له سمڅو نه پیل کړی او بیا ورو، ورو د سمڅو نه وتي او د ځان له پاره یې استوګن ځایونه، جوړکړي وي.

د دې کوټو ودانیز مواد یې ټولې تیږې (ډبرې) دي او د ډبرو نه داسې ښکاري چې ډبرې یې د نږدې سیمې نه راټولې شوي او ځینې یې هم داسې ښکاري چې د نږدې غرونو نه راوړل شوي کومې چې په غرونو کې په څرګنده توګه تر سترګو کیږي.

دا تیږې یا ډبرې تور رنګ او ځیني یې امکان لري چې د مسو تیږې یا ډبرې هم وي، د دې تیږو او ډبرو رنګونه (شکلونه)، وزن او جوړښت د نورو تیږو او ډبرو سره، توپیر لري.

د ډبرې (اکثرو) تیږو دېوالونو بر(سور، سیور) یې ۱۱۰ سانتي متره دي چې په هغه کې مواد (مصالح) خټه کارول شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې بڼار**

.........................

دا مواد (مصالح) د اوبو، بارانونو او واورو په وړاندې ډېر پایښت (مقاومت) لري، په دې توګه مونږ کولای شو هغه تر اوسه هم وګورو، که چېرې مونږ په ځیر سره ځېړنې تر سره کړو دا به څرګنده شي چې په ډبر کارۍ (سنګ کارۍ) کې د رس (خاک رس) یا ورته خاوره کارول شوې وي کومه چې په نږدې سیمو کې شتون لرۍ.

**رس خاوره:**

د ازموینې او موادو له پاره د امریکایی ټولنې د تعریف له مخې، راس د هایدروس المونیم فیلوسیلیکیټس په ګډون (شمول) راټول شوي طبیعي منرالونه دي چې د کافي نم (رطوبت) په ډېرولو(اضافه کولو) سره د پلاستیک ځانګړتیاوې ترلاسه کوي او د وچېدو وروسته کلکېږي (سختېږي).

د خاورې په طبقه بندي کولو کې، خاوره په بڼه دانه لرونکي ګروپ کې ځای پرځای شوې، د خاورو ذرې معمولا د ۰,۰۰۲ ملي میترو څخه کوچنۍ اندازې په توګه تعریف شوي دي.

ځینې وختونه د ۰,۰۰۲ څخه تر ۰,۰۰۵ ملي میترو پورې ذرات هم د خاورو په توګه تعریف کېدی شي.
هغه ذرات چې د خاورو په طبقې کې د دوی د اندازې سره سم ځای پر ځای شوي د خاورې منرالونه اړین نه دي. د خاورې په میکانیکونو کې، خاوره هغه ذرات دي چې که چېرې د اوبو محدود مقدار سره مخلوط شي، د خمیرې خواص په ګوته کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

..........................

خړپړتیا د خاورو په څېر د اوبو سره مخلوط شوي ملکیت دی له همدې امله دا مناسبه ده چې د خاورې هغه ذرات چې یوازې د اندازې له نظره د خاورو په کټګوریو کې راځي (یعنې د دوی اندازه له ۲ مایکرون څخه کوچنی وي) د خاورو پر ځای د خاورو اندازې ذرات بلل کېږي.

**په ودانیزو چارو کې د رس خاورې کارونه:**

رس خاوره د خښتو په جوړولو کې کارول کېږي، د معیاري خښتو د تولید له پاره د دې ډول خاورې ځانګړتیاوې باید د معیاري شمېرو(نمبرو) سره سمې وي.

د داغ لرونکو ختې د چینایي توټو په څېر پاکې نه دي، دوی ډېرتروشوالی او مګنیزیم (مګنیزیم آکسایډ) لري او د تیلو داغ ورنې او رنګولو له پاره کارول کېږي.
اوچر، چې له ختو سره شګه ده، ډېره اوسپنه اکسایډ لري او په رنګولو کې کارول کېږي.

**بنتونیټ:**

د سمندري خاورې یوه ډول دی چې د Montmorillonite لویه برخه جوړوي او څاګانو کیندلو او د انعکاس صنعتونو په جوړولو کې کارول کېږي.[۲]

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لویدیځو او ختیزوغونډیو استوګن ځایونو پرتله:**

که چېرې مونږ د لویدیزو غونډیو استوګن ځایونه د ختیزو او نورو غونډیو سره پرتله کړو، ډېرې ځانګړتیاوې په ستروګو کېږي چې د بېلګې په توګه یې، په لاندې ډول لیکلی شوو.

۱. ختیزو او نورو غونډیو استوګن ځایونه:
په یادو غونډیو کې استوګن ځایونو تاداونه (تهدابونه) او برسېره برخه یې د تیږو یا ډبرو نه جوړې شوې چې په ځینو سیمو کې لوړوالی یې تر ۱۵۰ سانتیو او سیور یا بر یې تر ۲۰۰ سانتیو (دوو مترو) پورې رسیږي او د هغه نه بر سېره دېوالونه یې د پخسې نه کارول شوي چې لمړی کتار (قطار) سیور یا بر یې د تیږو یا ډبرو کار سره یوه شان ده او په ټوله کې لوړوالی یې تر درېیو مترو پورې رسیږي.
د خونو (کوټو، اتاکونو یا اطاقونو) اندازې ډېرې سره ورتې او د دېوالونو اوچت والی یې سره یوه شان دي.

۲. لویدیزوغونډیو استوګن ځایونه:
په دې غونډیو کې استوګن ځایونه ټول له تیږو یا ډبرو نه کارول شوي چې د دېوالونو سیور یا بر په تادونو(تهدابونو) کې ۲۱۰ سانتي او د پاسه یا بر سېره دېوالونو سیور یا بر یې ۲۱۰ سانتي متره او د شته دېوالونو لوړوالی یې تر ۲۰۰ سانتیو (دوو مترو) نه لوړ دي.
د دې غونډیو استوګن ځایونه کوټې یوه د بلې سره لار یا اړیکه لري او په پای کې یوې سمڅې ته رسیږي.
زما په اند دوې لاندې لامل تر سترګو کېږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

**الف:**

کېدای شي په دې سیمې کې ژوند د همدو سمڅو څخه پیل شوی او بیا وروسته نورو غونډیو ته غزېدلی وي.

**ب:**

کېدای شي ژوند په نورو غونډیو کې پیل شوی او بیا وروسته د مسو لټون په ترڅ کې ځیني کسان د مسو راویستلو (استخراج) له پاره الته مېشت شوي وي، دا کسان کېدای شي د مسو راوېستلو (استخراج) کاریګر وي.

ما د دېوالونو په اندازه کولو وخت کې داسې بیل یا جلا ډول تیږې یا ډبرې ولیدې چې تور رنګ، جوړښت او دروندوالی (وزن) یې د نورو ډبرو سره توپیر درلود چې د دې ډبرو رنګ تور او د پښنو تیږو (سنګ پای) یا ډبرو ته، ورته والی درلود.

بل مهم ټکی د دې سیمې په استوګن ځایونو کې د مسو ویلې کولو خونې او ځایونه هم تر سرګو کیږي چې کېدای شي په هغه وخت کې د ډېرو سادوو او بسیطو وسایلو څخه کار اخیستل شوی او د هغه وخت کسان په دې نه دي توانېدلي چې د مسو ټولې تیږې یا ډبرې ویلې کړي، نو ځکه ګمان کیږي چې ځینې تیږې یا ډبرې یې ویلي کړي او پاتې برخه یې وروسته په دېوالونو کې کارولي وي.

په دې سیمې کې ۹۰ سلنه استوګن ځایونه د سمڅو سره تړاو یا تړلي دي. د پورته خبرې پخلي د پاره باید نورې دقیقې، مسلکی او فني کیندنی تر سره او بیا د یادو سیمو ساتنې (مراقبت) موخو پلانونه او بودیجې په پام کې ونیولو سره، تر سره (عملي) شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د لويديزو غونډيو استوګن ځايونه:**

د دې سيمې يا غونډيو استوګن ځايونو دېوالونو، ځينې برخې ورانې (ويجاړې) شوې ښکاري، دا په دې مانا (معنی) ده چې دا کار د غير قانوني څېړونو او کيندو په پېر تر سره شوي او يا هم د غير مسلکي کسانو او نه پاملرنې پر بنسټ سر ته رسېدلي او بيا د طبيعي پېښنو سره ورو، ورو ورانې (خرابې) شوې وي.
د ډېری خونو(کوټو، اتاقونه) اندازې په لاندې ډول دي:

د خونو(کوټو) د ننه اوږدوالی ٤٠٠ سانتي متره، بر(سور، سيور) يې ١٩٠ سانتی متره او شته (موجوده) اوچت والی (لوړوالی) يې تر ٣٠٠ سانتيو (درېيو مترو) پورې رسېږي.

په دې خونو يا کوټو کې ټيټ دېوالونه هم تر سترګو کيږي چې خونې او يا کوټې په دوې برخو وېشي.

۱. لمړۍ برخې اندازې يې په لاندې ډول دي:
اوږدوالی ۴۰۰ سانتي په ۱۹۰ سانتي کې، چې مساحت يې ۷۶۰۰۰ سانتی متره مربع چې د (۷،۶) مترو مربعې سره سمون (يوه شان، مساوي) دي.

همدا راز که د خونې (کوټې) حجم تر لاسه او يا وښيوو، کولای شو وروسته تر محاسبې، په لاندې ډول وليکو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

۲۲۸۰۰۰۰۰ سانتي متره مکعبه کېږي چې ۲۲،۸ متره مکعبو سره سمون (یوه شان، مساوي) ده.

د دې دېوالونو کارول شوې مصاله (مصالح، ختته) هماغه د رس (خاک رس) یا ورته خاوره ده چې نه یواځې د ډېرو کار (سنګ کارئ) کې کارول شوې ده، مګر دا خاوره د خونو (کوټو، اتاکونو) کورنیو (داخلي) دېوالونو پر مخ لکه اخېړ هم کارېدلې او مونږ یې په لاندې انځورونو کې په ښه توګه کتلی او لیدلی شوو.

په ځینو خونو(کوټو) په یوه دېوال کې تاخچې (تاقچې، طاقچې) هم تر سترګو کېږي چې ابعاد یې په نخشو (نقشو) کې لیدلی شوو.

دا دېوالونه د باندې خواوو نه د سیمې خاورو او کوشنیو تیږو نه ډک شوي مګر د ننه خواوو نه لوڅ او یا هم لوڅ شوي دي کوم چې د ودانولو نه ورسته د رس او یاهم ورته خاورو نه، اخېړ شوي دي.

همدا راز یوه خونه د بلې خونې سره د ټیټو او لږ سیورو(سورو، برو) دېوالونو په ذریعه چې ابعاد یې په نخشو (نقشو) کې ښودل شوي، جلا شوي دي.

بله مهمه خبره د پام وړ دا ده  چې په سیمې کې اوس کومه چینه، کاریز او سیند نه په سترګو کېږي، یواځې کوم څیز چې مونږ یې لیدلی شو، هغه وچ خوړونه دي.

څرنګه چې پوهېږو اوبه په ځمکه کې ترټولو بډایه او یقینا ترټولو مهمه او اړینه  مایع ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

..........................

مګر د انسانانو په ژوند کې د اوبو رول یوازې په بیولوژیکي پېښنو پورې محدوده نه ده، د اوبو فزیکي ځانګړتیاوې د ځمکې د نورو موادو په پرتله، بې ساري دي.

د هوا څخه وروسته، اوبه د ژوندیو موجوداتو له پاره ترټولو مهمه ماده ده، اوبه د چاپیریال له مهمو منابعو څخه دي، او د ټولو ژوندیو موجوداتو ژوند او روغتیا، د انسانانو په شمول، نباتاتو او حیواناتو په وجود پورې اړه لري.

د ځمکې درې پر څلورمې برخې اوبه پوښلې دي، خو د دغو اوبو ډېری برخه مالګه لري او د شته اوبو یوازې یوه سلنه تازه او د کارونې وړ ده.

اوبه په ځمکه کې یوه پراخه ماده ده، دا په مختلفو بڼو لیدل کېدی شي لکه سمندر، باران، یخ او داسې نور.

په دې دوره کې، اوبه په دوامداره توګه له یوه حالت څخه بل حالت ته بدلون ورکوي، مګر نه ورکېږي ځکه هر ژوند اوبو ته اړتیا لري.

انسانان د څښاک اوبه کاروي، دا هغه اوبه دي چې کیفیت یې د بدن میټابولیزم له پاره مناسبه ده.

د نفوسو په زیاتیدو(ډېرېدو) سره د طبیعي اوبو سرچینې په ختمېدو دي او دغې ستونزې د نړۍ ډیری حکومتونه اندېښمن کړي دي.

ځینې وختونه، د اوبو د کمښت د ستونزو له امله، دا ماده د خپل مصرف اعتدال له پاره کوپون کیږي.

کېدای شي په پخوا وختونو کې یادو خوړونو، اوبه درلودې او یا هم په سیمي کې د اوبو چینو شتون درلود، د اقلیمي بدلون سره په سیمې

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

کې د اوبو سطحه ټيټه شوې وي او د ابو وچېدو سره سم د دې سيمې خلک خپل ځايونو پرېښودو ته اړ او سيمه يې په شته توګه پرېښودلې او د طبيعي حالتونو سره ورو، ورو تر خاورې لاندې شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

..........................



**د ډبرو استوګن ځایونو انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

..........................



د ډبرو استوګن ځايونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library






د استوګن ځای (کوټې) پاس لید (پلان) نقشه د بېلګې په توګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................

د خونو(کوټو) په يوه اړخ کې تاخچه (طاقچه، تاقچه) هم ښکاري چې بر(سور، سيور) يې ۵۰ سانتي متره، ژوروالی يې ۵۰ سانتي لوړوالی په خواوو کې ۷۰ سانتي متره او منځ کې ۹۰ سانتي متره تر سترګو کېږي چې دواړو خواوو دېوالونه په سر کې د ليندۍ په توګه (شکل) سره نښلول شوې دي، اندازې يې کولای شوو، لاندې نقشو کې په ځير (دقيقه) توګه وګورو.




د کوټې پاس ليد (پلان) نقشه د اندازو په پام کې نيولو سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**..........................**



**د ډبرو استوګن ځایونو انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

..........................



د ډېرو استوګن ځایونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

...........................



د ډبرو استوګن ځایونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

..........................



د ډبرو استوګن ځایونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**.........................**



**د ډبرو استوګن ځایونو انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

..........................



د ډبرو استوګن ځایونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې بڼار

..........................



د ډېرو استوګن ځایونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

..........................



د ډېرو استوګن ځایونو لارو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

..........................



د ډبرو استوګن ځایونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

..........................



د ډبرو استوګن ځایونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

...........................



د ډېرو استوګن ځایونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................



د ډبرو استوګن ځايونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

..........................



د ډېرو استوګن ځایونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................



د ډبرو استوګن ځایونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

..........................



د ډېرو استوګن ځایونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

..........................



د ډېرو استوګن ځایونو انځور



د ډېرو استوګن ځایونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

..........................



**د ډېرو استوګن ځایونو انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................



د ډېرو استوګن ځايونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................



د ډېرو استوګن ځایونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

..........................



د ډبرو استوګن ځایونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................



د ډبرو استوګن ځايونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................



**د ډېرو استوګن ځايونو انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**.........................**



**د ډبرو استوګن ځایونو انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

..........................



د ډېرو استوګن ځایونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**..........................**



**د ډېرو استوګن ځایونو انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................



د ډېرو استوګن ځایونو د یوې خونې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ډېرو استوګن ځایونو یوې خونې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





په یوې خونې کې د تاخچې (طاقچې) انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

..........................



د خونې (کوټې) اوږد پاس لید  د تاخچې په ګډون

(c) ketabton.com: The Digital Library





**د خونې (کوټې) بر لید اړیکه د سمڅې سره**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**..........................**



**د خونې (کوټې) بر لید اړیکه د دالان دېوال سره**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

..........................



د دالان بر لید اړیکه د سمڅې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



..........................



د دالان بر لید اړیکه د سمڅې سره

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

..........................



سمڅې ته د ننوتو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................



د يوې سمڅې ننوتو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې بڼار

.........................



د يوې سمڅې انځور




د تاخچې (تاقچې، طاقچې) نقشي پلان

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**.........................**




**د تاخچې (تاقچې، طاقچې) نخشې (نقشې) مخامخ لید**

د خونو(کوټو) یوه برخه یې دالان ښکاري چې د تیټ دېوال(لږ لوړوالي دېوال) په مرستې سره، جلا شوي دي .
د جلا کونکي دېوال بر(سور، سیور) ۵۰ سانتی او لوړوالی یې د شته ځمکي فرش نه ۷۰ سانتي ده.
په دې توګه د دالان مساحت ۱۹۰۰۰ سانتي متره مربع چې د ۱،۹ متره مربع سره یوه شان (سمون، مساوي) ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**........................**




**د ټيټ دېوال نقشه په ټوټه (کټ، قطع، برش) کې**

که چېرې مونږ د کوټو غولو(فرش) ته په دکيکه (دقيقه) توګه وګورو د ټولو دېوالونه تاداونو يا تهدابونه ښه برخه (غرقه) لري چې سيور يې دېوالو د ننه نه ۵۰ سانتي متره ډېر او کېداشي د باندې خوا يې هم په دې اندازه وي، مګر د باندې خوا وتى او ژوروالي يې په ستر نه ښکاري چې دا کار، تخنيکي کيندنو ته اړ تيا لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

همدا راز کوټو غولي تاداو (تهداب) منځنۍ برخه د ۲۰ شلو سانتي مترو په اندازه ژور ښکاري او کېدای شي په کې کيندنې تر سره شوې وي.
اړينه خبره دا ده چې د ورانېدو مخنوي له پاره بايد د دې سيمې استوګن ځايونو په کلکه ساتنه وشي تر څو د دېوالونو ويجاړېدو مخه و نيول شي.
پورته ليکل شوې مالومات (معلومات ) په لاندې نقشې کې په دکيکه توګه، ښودل شوي دي.




**اوږده (۰۲) ټوټه (کټ، قطع، برش)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................




**لنډه (۰۱) ټوټه (کټ، قطع، برش)**

**د خونو(کوټو) چتونه:**

د سیمي خونې کومې چې په سترګو کیږی تر اوس محال چتونه نه لري او کېدای شي په پخوا پېر کې يې درلودل او انسانانو د خونو او (کوټو) نه د کال په بېلا بېلو موسومونو کې ترې ګټه پورته کړې وي.
کېدی شي لاندې پوښښ د سیمي موادو په پام کې نیولو سره، تر سره شوي وي:

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

**۱.** د دې له پاره چې خونو (کوټو) بر(سیور، سور) خورا لږ یانې د ننه اندازه یې د یوه دېوال نه تر بل دېوال پورې ۱۹۰ سانتي متره دي، کېدای شی د چنار لرګیو نه کوم چې د لوګر ولایت په ټولو سیمو کې په پراخه کچه کرل کېږي او دهغه ځای نه شاوخوا سیمو ته هم لیږدول کېږي، کارول شوي وي.

دا لرګي کېدای شي د وختونو په تېرېدو او ځینو کسانو له خوا په جګړو کې لوټ (غلا) شوي اویا سوځول شوي وي، مګر تر اوسه داسې نښې نښاني، نه په سترګو کېږي.

**۲.** که چېرې د دې کورونو دېوالونه د کابل ښار غره لوړې ودانۍ د عاشقانو او عارفانو سیمې بودا معبد سره پرتله کړو، داسې ښکاري چې د خونو(کوټو) پوښښ ټول د تیږو(ډبرو) په کارونې سره تر سره شوی او په کې خټه استعمال شوې وي او وروسته د ګنبدنو د بشپړ تیا نه، شاو خوا د غره ټوټې تیږې او پارچې خورې شوي او بامونه یې ښوی او اواره حالت غوره کړی وي.

**۳.** د ځینو مجسمو خونو(کوټو) چتونو ځینې کوشنۍ برخې تر اوسه هم په سیمې کې شتون لري، چېرې مونږ د یادو خونو یا کوټو چتونو پاتې برخې په ځیر سره تر څېړنو لاندې ونیسو، دې پایلې ته به ورسیږو چې یادو خونو چتونه نیمګړي استوانه یې کواره یا شکل درلود.

په چتونو کې هماغه نرۍ تیږې یا ډبرو نه کار اخیستل شوی دی کوم چې د ستوپاوو په جوړښت کې تر سترګو کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

د چتونو تیرې یا ډبرې  په ولاړه یا نېغه (پره) توګه کارېدلي او د دوو تیرو یا ډبرو تر منځ خټه کارول شوې کومه چې له رس خاورې سره تړاو، نړدېوالی یا ورته والی لري.
د دې ډبرو اوچت والی کومي چې په لیندۍ ډول کارېدلي ۳۰ سانتي مترو ته رسېږي.

د لیندۍ چت بشپړېدو نه وروسته په لیندۍ او شاو خواوو د سیمې خاور کومه چې د جغلو سره یوه ځای ده،  تر ۱۰۰ سانتیو پورې اچول شوی ده، چې د وخت په تېرېدو سره په خورا ښه توګه تخته شوې یا کلکه شوې چې د اوبو ښکته کېدو ټول امکانات یې بند کړي دي، بیا د ننه خواوو نه دې تیرې یا ډبرکاری او چتونو ته د هماغې خټې نه اخېړ ورکړ شوی دی.

تر اخېړ وروسته  دېوالونه او چتونه د سپینې خاورې (ګل سفید) په مرستې سپینې شوي یا رنګ شوي دي.

د دې خبرې پخلي له پاره کولای شو د یادو خونو کوټو بر (سور، سیور یا عرض) په ځیر سره وګورو چې د ډېری خونو یا کوټو بر تر دوو مترو لړ او ځینې یې ۱۹۰ سانتي متره دي.

د دې  ورته والي پخلی هم اسانه کار نه دی، ډېرو څېړنو او تخنیکي کیندنو ته اړ تیا شته، کېدای شي په دې هکله د عصري اکسرې کمرو او مصنوعی زیرکتیا تکنالوژۍ څخه، کار واخیستل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې بڼار**

.........................

غوره لاره یې دا بولم چې پخوانۍ لیکنې په بېلا بېلو ژبو کې کومې چې د دې سیمې په هکله دي، تر هر اړخیزه څېړنې او مطالعې لاندې و نیول شي، دا کار به تر ټولو د کیکه (دقیقه) او کټور وي.




۰۱ پریک

**د خونو یا کوټوچټونو بېلګې نقشه (پرېک یا برش)**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې بنار

.........................




د خونو یا کوټوچتونو ببلګې نقشه (پلان)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندي بنار

..........................




۰۲ پرېـــک

**د خونو یا کوټوچتونو بېلګې نقشه (پرېک یا برش)**




**د خونو یا کوټوچتونو بېلګې نقشه (پلان)**

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................

**سمڅې:**

که چېرې مونږ د يوې کوټې نه بلې کوټې ته کومې چې د لنډو دالانونو (دهليزونو) په مرستې سره يوه ځاى شوي سمڅو ته رسېږو، کومې چې په غونډيو او غرونو کې شتون لري.

دا سمڅې خورا ژورې دي ما هم کوښښ وکړ چې يوه څه په يوې سمڅې کې ور د ننه شم، مګر د تخنيکي وسايلو نه درلودلو سره وړاندې تګ نه لاس بر سر شوم.

د سمڅو په پيل برخو کې چېرې چې ورته طبعي رڼا او اوا (هوا، اکسيجن) رسېږى کوولاى شو د ننه لاړ شو.
مګر وروسته د تيارې او اوا (هوا، اکسيجن) کمښت سره مخ کيږو چې وړاندې تګ په عادى حالت کې نا شونى دى او اړينه ده چې د ځان سره خاص څراغونه او اکسيجن ډبې ولرو.

همدا راز کېداى شي په سمڅو کې ژوي او ځناور هم شتون ولري، لازمه ګڼم چې هر راز څېړنې په سمڅو کې د عصري تکنالوژۍ په مرستې سره، تر سره شي.

په شاوخوا غونډيو او غرونو کې ډېرې سمڅې شتون لري کومو مخو ته چې هېڅ استوګن ځايونه، ودانۍ نه په سترګو کيږي، د مالوماتو (معلوماتو) پر بنسټ داسې ښکاري چې دا سمڅې د مسو پلټنې او استخراج په موخو د پخواني شوروي اتحاد او خاصتاً هغوى له خوا زمونږ د هېواد نيونې (اشغال) په وخت کې، تر سره شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**.........................**

**په نړۍ کې د خلکو مېشتېدو لاملونه:**

که مونږ پخوا پير ته پام واچو او د مېساپټاميا يا ميسوپوتاميا (بين النهرين) ښار په هکله معلومات په ځير سره ولولو، کولای شوو د هغه منځ ته راتلو لاملونو باندې پوی شوو.

عربان دې ته جزيره وايي، خو په عمومي ډول هغه سيمې ته ويل کېږي چې له شمال ختيځ څخه د زغروس غرونو او له سويل لويديز څخه د عربي پليټيو تر څنګ پورې محدوده وي او په جنوب ختيځ کې د فارس خليج څخه د تورس ضد پورې غځېږي او په شمال لويديځ کې لوړې ځمکې.

۱ - د ميسوپوتاميا لومړی نومونه:

د لومړي ځل له پاره يونانيانو دې سيمې ته ميسوپوتاميا نوم ورکړ.

ميسوپوتاميا، د رمادي په جنوب کې (د بغداد لويديځ شاوخوا ۱۱۰ کيلومتره)، د فرات په څنډه کې موقعيت لري او د سمررا په ښکته کې د دجلې په څنډه کې موقعيت لري (شاوخوا ۱۱۰ کيلومتره د بغداد شمال - شمال لويديز کې)، يوه چپه ځمکه ده.

۲ - د سمندر له سطحې د ميسوپوتاميا لوړوالی

له بغداد څخه د اروندرود تر خولې پورې، د بحر له سطحې څخه د لوړوالی توپير شاوخوا لس متره دی.

۳ - د ميسوپوتاميا اقليم

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

د دې په پای کې یوه سیمه ده چې د "هور" په نوم پراخه لندبلونه او ریډونه لري، د منځنۍ تودوخې او د هوا د اوربښت په پایله کې د اوبو مقدار خورا لږ دی، منظم نه دي، میدانونه سخت او وچ او لږترلږه د کال په اتو میاشتو کې د کرنې له پاره مناسبه نه وي.

له همدې امله، کرنه، چې ظاهرا په لسمې میلادي پېړۍ کې د میسوپوتامیا په لوړو او باراني سیمو کې، د میسوپوتامیا په محوري غونډیو کې پیل شوې، په یو وخت کې پخپله میسوپوتامیا کې پیل شوه، د تمدن اصلي مرکز، کله چې مصنوعي اوبولګونه منځ ته راغله، او د اوبو له لارې پراخو ځمکو ته راوړل شوه.

د اوبو لګولو په مناسب ډول، سویلي میسوپوتامیا په یوه میشته ځمکه بدله شوه چې لوی نفوس یې تغذیه کړ.

په پای کې، د جنوبي میسوپوتامیا اوسیدونکو په ٤٠٠٠ میلاد نه وړاندې کې د شمالي میسوپوتامیا کلتوري برتري په غاړه واخیسته، او ښاري دولتونه لکه ایریدو، اور، لارسا، لاګاش، نیپور، اکاد او بابل جوړ شول.

۴ - د میسوپوتامیا اقتصادي فعالیتونه

په میسوپوتامیا کې، کرنیز محصولات، د څارویو پالنه، کب نیولو، د کجور کرنه او د سرې پورې اړوند صنعتونه په اسانۍ سره شتون درلود، مګر لرګي، ډبرې او فلزات په ندرت سره موندل شوي یا شتون نه لري؛ د پایلې په توګه، سویلي میسوپوتامیا د پیل څخه د سوداګرۍ ځمکه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- د میسوپوتامیا هنري فعالیتونه

په ودانیزو(ساختماني) کارونو کې د ختو کارول، په ختو او ختو باندې د لیکلو هنر او د دې خاورې یوه له ځانګړو نښو څخه دی، میسوپوتامیا بېلا بېلې (مختلفې) ژبې او کلتورونه لري او له ډېرو تاریخي دورو څخه تېرې شوې دي، دا ریښتېنی جغرافیائي وحدت نه لري، تر ټولو مهم د دې نشتوالی دا دایمي پلازمینه ده.

۶ ـ د میسوپوتامیا تمدن

د میسوپوتامیا تمدن د خپل کثرت او تنوع له پاره پېژندل شوی دی، دې تمدنونو یوه بل باندې تاثیر کړی دی، لکه د اکاډین تمدن باندې د لرغوني سومري تمدن نفوذ او د اور د دریمې کورنۍ د پاچاهانو نفوذ، چې په میراث کې یوه ترکیب دی.

د Sumerian-Akkadian تمدن، د دویم زریزې په لومړۍ ربع کې.

د میسوپوتامیا تمدن د هیتیانو په دوره کې د ۱۷۰ میلاد څخه وړاندې څخه د اناتولیا لویو سیمو ته رسېدلی.

۱,۶. د مختلفو علومو په برخه کې

بابلیانو په ریاضیاتو او ستور پوهنه کې لویه ونډه درلوده، حقوقي نظریه د دې تمدن په لومړیو دورو کې وده او ژوره شوه او د قانوني حکمونو په څو سیټونو کې لیکل شوې، چې د کوډونو په نوم پېژندل کېږي، چې د حمورابي کوډ خورا مشهور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۲،۶. په اقتصادي ډګر کې

له لس زره کاله میلاد څخه وړاندې د لوی دایمي استوګنځایونو تر رامینځته کېدو پورې، په میسوپوتامیا کې د پراختیا لاندې مرحلې پېژندل کېدی شي، چې ځینې یې په موازي ډول دوام لري:

د کوچیانو له ژوند څخه بدلون، یا د استوګنې د دایمي یا موسمي بدلون څخه لېږد، چې د ښکاریانو او د ځارویو لومړۍ ډله وه، په یوه ځای کې د څو کلونو یا حتی د تل له پاره ژوند کول؛ د نباتاتو د تجربوي کښت څخه د حبوباتو اغیزمن او محاسبه شوي کښت ته لېږد؛ د کورونو جوړول او په وینا، په معبدونو کې د خدایانو "جوړول"؛ په هدیرو کې د مړو ښخول؛

د لوښو اختراع چې لومړی د لاس په واسطه جوړ او سینګار شوی او وروسته د څرخ په واسطه؛ د متخصصو مسلکونو پراختیا او د کار ویش؛ او د فلزي تولید.

د زوي کیمي او شنیدار د استوګنې ځایونه چې د یو بل په شاوخوا کې او د راوندوز په شمال لویدیز کې موقعیت لري، د ۱۰ څخه تر ۹ پیړۍ پورې د لېږد دورې پورې اړه لري.

د میسوپوتامیا د ماهوري غونډۍ په پولو کې، د کرکوک په ختیځ کې د جرمو قلعه کې، نږدې درې زره کاله موده تعقیب کېدی شي، شاید دا استوګنځی د ۶۷۵۰ میلاد نه وړاندې په شاوخوا کې رامینځته شوې وي.

حسونة (موصل ته نږدې) او تل ساوان (سامراه ته نږدې)، د میسوپوتامیا په وچه کې تر دې دمه کشف شوي ترټولو زاړه کلي دي چې شاوخوا زر کاله وړاندې تړاو لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



### ۳,۶. د کرنې په برخه کې

تال ساوان د باراني کرنې د پولې په سویل کې موقعیت درلود، او په دې توګه دا باید په یوه ډول پر اوبولګولو تکیه کړې وي - حتی د دجلې څخه اوبه راوباسي - او له همدې امله دا یوه تاریخ وړاندې کوي چې وروسته یې د سویلي برخو کې میشته کېدل ممکن وو.

میسوپوتامیا د وسیلو او تجهیزاتو پرمختګ، د اوبو له لارې ټرانسپورټ، او په ځانګړې توګه په دې سیمې کې د معمارۍ پرمختګونو مخ په زیاتېدونکي سرعت تعقیب له پاره ترټولو مناسب ځای د ایریډو ښار دی چې په تاریخي وختونو کې د سومریانو خدای اینکي پیروانو مرکز و.

### ۴,۶. د معمارۍ په ډګر کې

د ایریډو معبد معمولا د بابل د دورې په وروستیو کې د مذهبي ودانیو لومړۍ بېلګه ګڼل کېږي، د بېلګې په توګه، زیګورات، د اریيک (اروک / اریخ، لرغوني سومیرین ښار) د لویو معبدونو په جوړولو سره، د څلورمې پېړۍ په پای کې او د پای په شاوخوا کې د معمارۍ وده د دریم زریزې په پیل کې دا خپل اوج ته ورسېد.

لکه څنګه چې د میسوپوتامیا د خلکو توکمیز هویت معلوم نه دی، د پخوانیو تاریخي استوګنځایونو د ټولنیز تنظیم په اړه هیڅ معلومات شتون نلري، د یوه کلي په مطالعه کې، دا ممکنه نه ده چې د "حکومت" یا د سیمه ایزو اړیکو په اړه خبرې وشي، کوم چې ممکن د یوه واحد مرکز له خوا تسلط شوی وي.[۲]

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................



**د استوګنې غونډۍ انځور**

که چېرې مونږ د سيمې استوګنو کورونو ته نظر واچوو د هغه وخت د خلکو ښه سوچ په معمارۍ کې ته غاښ په ګوته کوو او حيرانېږو چې هغوي په پخوا پېرونو کې مخکې تر دې چې پر ودانيو پيل کړي، لمړې يې شاوخوا سيمې کتلې، د استوګنې له پاره يې اوچتې غونډۍ ټاکلې او بيا وروسته يې الته د کورونو په جوړونې، لاس پورې کړی دی.

د داسو کورونو جوړونه لاندې ګټې لري:

۱. داسې غونډۍ هېڅکله د سېلابونه، واورو ښويېدو (برفکوچ) او د غره ډبرو غورزېدو تر اغېزې لاندې نه راځي.

۲. داسې غونډۍ د ورځې له خوا پوره لمر او خلک کولای شي ترې ډېره ګټه واخلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

**۳.** کورونه په داسې غونډیو کې د ښې اوا ( هوا) نه برخمنې او خورا ښه طبعي باد په کورونو کې چلېږي.

**۴.** د کورونو جوړونه په داسې غونډیو کې تر لوړ امنیت نه برخه منې وي.

**۵.** دا کورونه د هرې خواوو نه لید لري.

**۶.** د سیمې خلک کوم چې د ورځني دندو، اوبو راوړنې له پاره ښکته سیمو ته تګ او راتګ کوي، همدا راز کوشنیان او څاروي کولای شي په آسانه توګه یې و مومي.

**۷.** د داسې کلیو پته ور کونه هم ډېره آسانه او هر کس (څوک) کولای شي په ساده توګه یې و مومي.

**۸.** په داسې کورونو کې واوره او د باران اوبه نه ایساریږي او په ډېرې چټکۍ سره د کوشنیو ویالو کیندونو سره لاندې سیمو ته ښکته کیږي.

**۹.** د کورونو جوړونې مواد یې ځایي ډبرې او خاوره ده.

**۱۰.** د ډبرو په کار کې هم د خاورو نه کار اخیستل شوی دی.

**۱۱.** دېوالونه یې د پخسې دي.

**۱۲.** د ډبر کارکې یې دوې ډوله تیږې چې یوه ډول یې کلوله یا ګردې تیږي چې د غونډیو شاو او خواوو نه ټولې شوې او کارېدلي دي، او ځینې نورې یې د سمڅو نه کیندل شوي او د کار سیمو ته لیږدول شوي دي.

داسې ډېرې لږې تیږې ښکاري چې د غونډیو تیږي ماتې شوې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................



د غونډیو په سرونو کې د استوګنو کورونو انځور



د غرونو په سرونو کې د استوګنو کورونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

..........................



د غونډیو په سرونو کې د استوګنو کورونو انځور



د غونډیو په سرونو کې د استوګنو کورونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................



د غونډيو په سرونو کې د استوګنو کورونو انځور



د غونډيو په سرونو کې د استوګنو کورونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................



د غونډیو په سرونو کې د استوګنو کورونو انځور



د غونډیو په سرونو کې د استوګنو کورونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................



د غونډیو په سرونو کې د استوګنو کورونو انځور



د غونډیو په سرونو کې د استوګنو کورونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

..........................



د غونډيو په سرونو کې د استوګنو کورونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library







د غونډیو په سرونو کې د استوګنو کورونو انځور



د غرونو په سرونو کې د استوګنو کورونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................



د غونډیو په سرونو کې د استوګنو کورونو انځور



د غونډیو په سرونو کې د استوګنو کورونو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................



د میس عینک د کان کیندنې په ساحه کې د لړترلړه دوو کلیو څخه یوه اوس هم شتون لري
[انځور د فرانز جې مارتیي له خوا]

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

..........................



د عینک مسو سیمې کې د ولي با با کلي (استوګن کلی) چې اوس مهال د امنیتي اړتیا په موخې تش (خالی) شوی دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**..........................**



**د عينک مسو سيمې کې د ولي با با کلي (استوګن کلی) چې اوس مهال د امنيتي اړتيا په موخې تش (خالی) شوی دی**

د لومړي انځور په شنې کربښې مينځ کې سيمه د ولي با با قريې په نوم يادېږي چې ۰۱۳ او ۰۰۳ مشهورو لرغونو سيمو ترمينځ شتون (موقعيت) لري، تر دې دمه، يوائې جومات يې جوړ پاتې او نور څه له منځه تللی او په سترګو نه ليدل کېږي (ښکاري).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................



د عینک مسو سیمې کې د ولي با با کلي (استوګن کلی) چې اوس مهال د امنیتي اړتیا په موخې تش (خالی) شوی او یواځې جومات یې روغ پاتې دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................



د عینک مسو سیمې کې د ولي با با کلي (استوګن کلی) چې اوس مهال د امنیتي اړتیا په موخې تش (خالی) شوی او یواځې جومات یې روغ پاتې دی

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................



د عینک مسو سیمې کې د ولي با با کلی (استوګن کلی) چې اوس مهال د امنیتي اړتیا په موخې تش (خالی) شوی دی

په دوه وروستیو انځورونو کې هم د ولي با با قریه ده چې اوس چینایانو کمپ شمال خوا (طرف) ته شتون (موقعیت) لري او چینایانو په کې ځو بلاکونه هم جوړ کړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بودايي ستوپاوې:

ستوپا ("ستوپا" په سنسکرت کې د ډهير له پاره ده) د بودا معمارۍ يوه مهمه بڼه ده، که څه هم دا د بوديزم څخه مخکې دی.
دا عموما د مقبرې يادگار گڼل کېږي - د ښخولو ځای يا د مذهبي شيانو له پاره ځای ته وايي.



**د عينک مسو سيمې ستوپا وو انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library





د عینک مسو سیمې ستوپا وو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې ښار

.........................



د عینک مسو سیمې سټوپا وو انځور

درې ډوله جوړښتونه د لومړني بودیزم له مذهبي معمارۍ سره تړاو لري:

۱. د صوفیانو عبادتګاه وې (ویهارونه)،

۲. د اثارو د عبادت ځایونه (سټوپا)،

۳. زیارتونه یا د لمانځه تالارونه (چیتاس، چې د چیتیا ګراهاس په نوم هم یادیږي)، چې وروسته په ځینو کې د مندرونو په نوم یادیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

**سانچي ستره ستوپا:**
د سيمې ځانګړتيا د سانچي لوی ستوپا ده چې زرګونه کاله د مخه د امپراتور اشوکا له خوا تاسيس شوې او په نړۍ کې د ځينو غورو بودايي هنرونو سره سينګار شوې ده.

په سانچي کې لويه ستوپا په سيمې کې د بودايانو د عقيدې مرکز و، ځکه چې دا په درېيمه پېړۍ کې د امپراتور اشوکا له خوا جوړه شوې وه.

د بودا ستوپا په اصل کې د تاريخي بودا او د هغه د ملګرو د ځمکې پاتې کېدو له پاره جوړې شوي او تقريبا په دوامداره توګه د بوديزم په مقدس ځايونو کې موندل کيږي.

**د مندر او ستوپا ترمنځ توپير:**
معبدونه ډيری وختونه د خدايانو او څارويو په شکل کې د ډبرو ساتونکو سره دروازې هم لري.

ستوپا د زنګونو په څېر شکل لري او ممکن يوه ډول اثار ولري (هغه څه چې بودا له ځانه سره وړل يا د بودا د بدن ځيني برخې لکه د ميخونو ټوټې)، د بودا ليکنې يا د بودايي راهبانو پاتې شوني دي.

**د موريان امپراتور اشوکا:**
ستره ستوپا (د ستوپا نمبر ۱ په نوم هم يادېږي) اصل کې په دريمه پېړۍ کې د موريا امپراتور اشوکا له خوا جوړه شوې وه او داسې انګېرل کيږي چې د بودا د ايرو کور دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د سټوپا سمبول:**

سټوپا د سولې او مينې سمبول دی، د بودا اثار په بنسټ او سر کې ځای په ځای کوي. ويشالي هغه ځای دی چيرې چې بودا د خپل نروانا څخه د مخه خپل وروستی واعظ تبليغ کړ.

**د سټوپا جوړل:**

لومړی، د ښه کيفيت ډبره بايد وموندل شي، استخراج شوي او هغه ځای ته لېږدول شوي چې ډيری وختونه د نوي ودانۍ له پاره په احتياط سره غوره شوي. دوهم، د ډبرو دا ناڅاپه بلاکونه بايد شکل شي، په ستنو و پوښل شي، او د ديوالونو، پوړونو او چتونو له پاره ډبرو تختې (تخته سنګ) و موندل شي.

**د سټوپا مانا (معنی)**

سټوپا ("سټوپا" په سنسکرت کې د ډهير له پاره ده) د بودا معمارۍ يوه مهمه بڼه ده، که څه هم دا د بوديزم څخه مخکې دی.

دا عموما د مقبرې يادګار ګڼل کيږي - د ښخولو ځای يا د مذهبي شيانو له پاره ځای او يا په ساده ډول، سټوپا د خاورو خځلو غونډۍ چې د ډبرې سره مخامخ ده.

**د سټوپا اصلي برخه:**

د سټوپا ګنبد په لاندينۍ برخه کې يوه، دوې يا درې سلنډر ډوله چتونه يا بيسل حلقې لري، چې کله ناکله يوه تخته جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

..........................

په پورتنۍ برخه کې، ګنبد مربع خونه لري، کوم چې یو کلک جوړښت دی او مربع پلان لري، بیا یوه یا څو سلنډر راشئ، سپیر او پاینکل چې یوه منار او کرسټال لري.

**د سټوپا جوړ ښت:**

۱. سټوپا هغه غونډۍ وې چېرې چې د بدن پاتې شوني یا د بودا له خوا کارول شوي شیان ښخ شوي وي، نو دا ټول سټوپا مقدس ګڼل کیده که څه هم سټوپاوې د بودا څخه مخکې هم شتون لري مګر دوی په ټوله کې (عمده توګه) د بودیزم سره تړاو لري.

سټوپا پنځه اساسي جیومیټریک انځورونه (شکلونه) چې د پنځو عناصرو سره مطابقت لري:

۱. ځمکه

۲. اوبه

۳. اور

۴. اوا(هوا)

۵. فضا

له هغې څخه نړۍ او د هغې د ننه ټول اټومونه جوړ شوي دي. برسېره پر دې، د سټوپا ټول شکل د ناست بودا انځور ته نږدې او ورته والی لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................

**عبادت په سټوپا وو کې:**

له کومه وخته چې سټوپا ، د خدای بودا سپیڅلی استازی، بودا چې دواړه په تایلینډ او نورو هېوادونو کې ژوند کوي د دې باور سره د سټوپا عبادت کولو له پاره زیارت ته لاړ چې دا سفر به د هر ډول خطر څخه ځان وساتي.

**د سټوپا پیدایښت:**

سټوپا د غونډۍ په څېر جوړښت دی چې د بودایی راهبانو اثار لري، دا د پام کولو (مراقبت) ځای په توګه کارول کېږي او ډیری سټوپاګانې تر ۲۳۰۰ کلونو پورې زاړه او یا شا لید (تاریخ) لري.

**په نړۍ کې لومړی سټوپا:**

د سټوپا ترټولو پخوانی ژوندی بېلګه په سانچي (مدیه پردیش) کې ده او دا سټوپا د نړۍ یوه تر ټولو لوړو یادګارونو څخه دی چې په ۱۰۳ متر (۳۳۸ فوټ) کې ولاړ دی او د ۲۹۰ متره (۹۵۱ فوټ) اوږدوالی (طول) لري.

اصلي سټوپا شاوخوا ۵۵ متر (۱۸۰ فوټ) لوړوالی درلود او د ډیرو پاچاهانو له خوا ترمیم شوی وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................

**د سټوپا نوم:**

د مهابودي سټوپا، بود ګیا د هغه ځای په توګه پیژندل شوی چېرې چې د خدای بودا روښانتیا تر لاسه کړې، دا سټوپا شاید د بودا په مذهب کې تر ټولو مهم جوړښت وي.

**د سټوپا کارونه:**

په یوه معبد کې ممکن د بودا په سلګونو مجسمې او نقاشۍ وي، نو د دې ټولو په ځېر ورته سجده کول د باور وړ ګڼه نه ده، د دې وړتیا سربېره چې د دورې وهل یا ګرځېدلو (په پښو سره) څخه رامینځته کیږي کله چې د معبدونو یا سټوپا وو شاوخوا ګرځېدل، دا ښه ده چې لاسونه د وړتیا راټولولو له پاره وکارول شي.

**تر ټولو لوی سټوپا (Jetavanaramaya):**

دا سټوپا په انوراډاپورا یانې (یعنې) په شمالي مرکزي ولایت او سریلانکا هېواد کې شتون لري.

۱. اصلي لوړوالی: ۱۲۲ متر (۴۰۰ فوټ)

۲. اوسنی لوړوالی: ۷۱ متر (۲۳۳ فوټ)

د دواړو لوړوالو پرتله کولو سره په روښانه توګه ښکاري چې د وخت په تېرېدو، د طبعي حوادثو او د وختونو پاچاهانو د نه پاملرنې له امله پورتنۍ برخې یې چې ۵۱ مترو ته رسېږي، نړېدلې او له منځه تللې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



.........................

**د ستوپا په اړه په زړه پورې حقايق:**

په سانچي کې لوی ستوپا د هند معماری یوه مهم یادگار دی او د هند یوه له پخوانیو ډېرو ودانیو څخه بلل کېږي.

دا په درېیمه پېړۍ کې د موريا واکمن اشوکا لوی له خوا ټاکل شوی و.

دا بودا د آثارو په سر کې د بنسټيز نیمه کره خښتو ودانۍ سره پیل شوه.

**د بودا دعا:**

برهما ساهمپتي، چې د مهابراهما ترټولو لوړ پوړی بلل کېږي، هغه دیوتا و چې د بودا څخه لیدنه وکړه کله چې هغه روښانتیا ترلاسه کړه، او هغه يې وهڅول چې انسانانو ته د مذهب درس ورکړي.

**د بودیزم ۸ سمبولونه یا اته غوره نښې:**

۱. قیمتی پارسول

۲. د سپین شنو خولۍ

۳. دوې طلایی کب

۴. د ابدیت غوټۍ

۵. د لویو خزانو گل لوښی (گلدان)

۶. د بریا بینر

۷. د لوټس گل

(c) ketabton.com: The Digital Library



۸. اته خبرې شوي څرخ.

**د ستوپا ډولونه:**

۱. د سريريکا ستوپا،

۲. پربوګيکا ستوپا

۳. اديشيکا ستوپا

۴. د بودا ستوپا

د دوی څخه، د سريراکا ستوپا کې د بودا ښخ شوي جسدونه شامل وو، په داسې حال کې چې پربوګيکا ستوپا کې د بودا ښخ شوي توکي شامل وو مګر د اديشيکا ستوپا د يادګار په توګه جوړه شوه.

**د اسيا تر ټولو لوړ ستوپا:**

دا په واټ فرا پاتومماچيدي راتچا وورا مها ويهان (تای: วัดพระปฐมเจดีย์ราชวรมหาวิหาร) په مرکز ناوخوم ښار کې شتون (موقعيت) لري.

په نړۍ کې ترټولو لوړ ستوپا، د هغې سر لوړوالی ۱۲۰,٤٥ مترو ته رسيږي، او د هغې د بنسټ (بيس، تهداب) چوکات (فريم) ۲۳٥,٥۰ متره دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د سټوپا اهمیت:**

سټوپا د بودایي معمارۍ ترټولو مهم مذهبي جوړښت دی، دا یوه غونډۍ یا نیمه کره ده چې د بودا د روښانتیا استازیتوب کوي او د بودا د ایرو په څیر د بودا مقدس اثار لري.

همدا راز دا د بودا د لمانځه د تالار مرکزي ټکی (نقطه ده) دی او ډیری مراسم د سټوپا شاوخوا ترسره کیږي.

**د سټوپا کېښودل:**

د بودا ذهن په دودیز ډول د سټوپا له خوا نمایش کیږي کوم چې باید د بودا عکس ښي خوا ته کېښودل شي یا د بودا لاندې که چېرې محراب (عبادت خوا، عبادت ) څو درجې ولري او په محراب کې شیان د پناه ځای درې ګانې هم استازیتوب کوي.

**د سټوپا شکل:**

ځینې یې خاورو ته سپارل شوي، مګر ځینې وختونه دوی په ناست، مراقبت موقعیت کې ښخ شوي، د ځمکې ټوټی دوی پټ کړل.

په دې توګه، د سټوپا ګنبد شکل د هغه چا استازیتوب کوي چې په مراقبت کې ناست و لکه د بودا په څېر، کله چې هغه د څلور عالي حقیقتونو روښانتیا او پوهه ترلاسه کړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**د سټوپا بڼه:**

د بودا سټوپا په بڼه مذهبي ودانۍ، د ګنبد په څېر (شان، شکل) جوړېښت، په هند کې بودا د سپېڅلو آثارو ذخيره کولو د يادګاري يادګارونو په توګه، کارول پيل شوي.



**د عينک مسو کان ته څېرمه د سټوپا څېړنيز انځور**

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................



د عینک مسو کان ته څېرمه د ستوپا یوې برخې اندازه کولو انځور



د عینک مسو کان ته څېرمه د ستوپا یوې لاندینی برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د خاورو لاندې ښار

.........................



د عینک مسو کان ته څېرمه د ستوپا یوې برخې اندازه کولو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د عینک مسو کان ته څېرمه د ستوپا یوې برخې اندازه کولو انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library





د ۰۴۹ سیمې د ستوپې یوې برخې انځور

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**..........................**




**د ستوپا د قاعدې رسم لار (طریقه) لمړی پړاو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**.........................**




**د سټوپا د قاعدې رسم لار (طریقه) دوېیم پړاو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**.........................**




**د ستوپا د قاعدې رسم لار (طریقه) درېیم پړاو**

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

**........................**




**د ستوپا د قاعدې رسم لار (طریقه) څلورم پړاو**

(c) ketabton.com: The Digital Library






د سټوپا  د قاعدې  رسم لار (طريقه) پنځم پړاو

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د خاورو لاندې بڼار

.........................




**د ستوپا د قاعدې رسم لار (طریقه) شپږم پړاو**

(c) ketabton.com: The Digital Library






**د سټوپا د قاعدې رسم لار (طریقه) اووم یا وروستی پړاو**

**د سټوپا پلان یا پاسنی لید:**

زما په اند او څېړونو داسې ښکاري چې یوه سټوپا د تخنیکي رسم پر بنسټ او اساس، لمړی یوه حلقه (دایره) رسم شوې کومه چې په حلقوي بڼه (شکل) د بودیزم پیروان د عبادت په توګه کاروي، بیا وروسته دغه حلقه (دایره) پر څلورو منظمو برخو وېشل شوې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

........................

دغه څلوریزه (څهار ضلعی) ۱۲۰ سانتۍ په اندازه (په ځینو ستوپا وو کې) لوړه شوې ده او بیا وروسته دغه څلوریزه په اته ایزه (هشت ضلعی) وېشل شوې ده.

دا وېش د تخنیکي رسم پر بنسټ تر سره او د حلقې د مرکز نه پیل شوی او د څلوریزو ژۍ ته نه رسېږی، نو ځکه د ژۍ څخه اندازه (فاصله) لري.

دا مېچې (فاصله) د څلورو خواوو نه په یوه شان ده، دا په دې مانا (معني) ده چې د ستوپا په جوړونې کې د دایرې نه کار اخیستل شوی دی او ټولې اندازې (فاصلې) یې د حلقې (دایرې) مرکز نه په یوه شان دي.

د ستوپا څلوریزې یوه د بل سره توپیر لري، کوم ستوپا چې ما په پورتینو انځورونو کې اندازه کړې ده، هر اړخ یې ۳۳۳,۳۵ سانتي ده.
د ځینو اته ایزو ( هشت ضلعي) هر اړخ یې ۹۰ سانتي ده، که چېرې مونږ دا د عصري تکنالوژۍ (کمپیوتر) او په اټوکاد پروګرام کې وکاږو(رسم کړو) د دایرې شعاع به ۲۳۵,۲۱ سانتۍ ته، ورسېږي.

همدا راز د اته ایزې (هشت ضلعی) لوړوالی په هر ستوپا کې یوه شان نه دي او یوه یې د بل سره توپیر لري.
که چېرې مونږ تناسب په پام کې ونیسو د اته ایزه (هشت ضلعی) لوړوالی به د څلوریزې لوړوالی په پرتله، دوې برابره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

..........................

په نورو ملکونو کې ستوپاوې ډېرې لوړې دي او د اته ایزې د پاسه بیا ځلوریځې او نور هندسي شکلونه په سترګو کېږي.

څرنګه چې د عینک مسو کان ته څېرمه ستوپاوو پورتنۍ برخې د وخت په تېرېدو او طبعي حوادثو منځ ته راتلو سره، ویجاړې شوې او د وخت شاهانو د نه پاملرنې سره ورو، ورو تر خاورو لاندې شوي دي.

د بده مرغه د عینک مسو سیمې ټولو ستوپاوو پاسنۍ برخې نړېدلې او مونږ نه شو کولو د اندازه کولو( اندازې اخیستلو) سره د شتون (موجوده) پاتې څخه، دقیقه اندازه واخلو او رسم یې کړو.

**د ستوپا مخامخ لید (نما):**

که چېرې مونږ شته (موجوده) ستوپاوې (ستوپا ګانې) په ځیر سره وګورو، پوهېږو چې ټولې ستوپاوې د تجربه لرونکو ختګرو، معمارانو او کاریګرانو په خواریو، هغه وخت امکاناتو او د سیمې ډبرو او خاورو نه په ډېرې ښې توګې یا په مهارت سره جوړې شوې او سر ته رسېدلې دي چې مونږ یې تر اوسه کولای شو په ښې توګه وګورو او د هغه وخت معمارۍ نه، ګټه واخلوو.

د ځلوریزې په مخامخ لید یانې په ژبیو کې تیږو یا ډبریزې ستنې (پایې) لیدل کیږي چې دا ستنې د ځلوریزې په منځ کې هم لیدل کیږي او دا ستنې د نرېیو(پتلیو، نازکو) تیږو یا ډبرو څخه په ډېر ښه تناسب او مهارت سره، جوړې شوې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**د خاورو لاندې ښار**

.........................

دا نرۍ تیرۍ یا ډبرې یوه د بل په سر ایښودل شوي او د دوې تیرو یا ډبرو تر منځ د ختو مصاله (مصالح) کارول شوې ده.

دا تیرې یا ډبرې د ستنو په لومړیو کتارونو (قطارونو) کې پلنې او ورو، ورو نرۍ کیږي او وروسته بېرته پلنیږي.

دا کار د معمارۍ په ښه سوچ سره، تر سره شوي او ښه تناسب هم لري.
ستنې یا پایې په پورتنۍ برخې کې یوه د بلې سره د نیمګړۍ شپږیزې ( نیمه شش ضلعی) سره نښلول شوې دي.

